# ((پښتو سیند))

## د لومړني چاپي پښتو قاموس څېړنه

## Pashto seind
## Analysis of First ever published Pashto Dictionary

Dr Azizullah Jabar Khel★

**ABSTRACT**

In my research paper (essay) I have explained a highly valuable work, Pashto seind (پښتو سیند) by Wazir Mohammad Gul Khan, I described its size and its textual formation. My findings suggest that it is first published (printed out) Pashto Dictionary in Afghanistan, which is the result of his ten years' hard work. I shed light on both volumes of the dictionary. I found there are seven thousand three hundred and sixty 7360 words. The dictionary started with Pashto word (آها) and ended with Pashto (ییوه کول).

**Key Words:-** Pashto seind, Dictionary, Afghanistan

په دې لیکنه کښې د وزیر محمد ګل خان په یو قیمتي اثر ((پښتو سیند)) باندې خبرې شوې دي، چې د اثر په شکلي جوړښت او محتوائي اړخ څېړنیز بحث ترسره او دا په ګوته شوې چې دا په افغانستان کښې لومړنے پښتو چاپي قاموس دے، چې د مومند بابا د لسو کلونو د هڅو په پایله کښې لیکل شوے دے. د قاموس په دواړو ټوکونو رڼا اچول شوې د مخونو او ویونو شمېر ئې ښودل شوے، چې په ټولیز ډول (۷۳۶۰) د پښتو ژبې سوچه لغاتونه ((د پښتو سیند)) په (۷۶۵) مخونو کښې راوړل شوي دي. قاموس د (آها) په ویي پیل او (ییوه کول) په ویي پائې ته رسېدلے دے.

پښتو ژبه کښې د قاموسونو (ډکشنریو) د لیکنو په سلسله کښې ((پښتو سیند)) د وزیر محمد ګل خان مومند هغه اثر دے، چې د قاموس لیکنې په علمي معیارونو برابر لیکل شوے دے. به دې لیکنه کښې کوښښ شوے، چې د پښتو سیند په جوله (شکل) باندې هر اړخیزې خبرې وشي. له (الف) نه نیولې تر (ے) پورې په ترتیب سره چې څومره پښتو سوچه ویونه په کښې

★ Associate Professor Nangrahar University, Afghanistan

راوړل شوي، د هغو شمېر په ګوته شي او ورسره ئې مخونه هم څرګند شي. همدارنګه هاند شوے چې د قاموس په منځپانګه هم رڼا واچول شي. او د اثر په اړه د پوهانو نظرونه هم راوړل شي، څو د «پښتو سيند» اهميت لوستونکو او د پښتو ژبې او ادب مينه والو ته لا روښانه او څرګند شي. «پښتو سيند» د وزير محمد ګل خان مومند هغه قيمتي اثر دے، چې د لسو کلونو د زيار په پايله کښې ئې ليکلے او بشپړ کړے دے.

وزير صاحب د هغې وينا له مخې چې ويل ئې: « . . . ژبه د ملي هويت موجوديت، هوساتوب او سعادت، د لوړوالي او جګ والي سته ده. نو ژبه بايد وساتله شي، وپاله له شي، و روزله شي، هار ته کړله شي، علمي شي، ادبي شي، په هر حيث سره د ملت درستو اړينو او احتياجاتو ته کافي شي. اوس به راشو، چې ژبه څنګه ساتل کېږي؟ ژبه دغسې ساتله کېږي، چې ټول لغات او اصطلاحات ئې قيد صرفيه او نحويه قواعد ئې ضبط شي. اديبان، عالمان، پياوړي او پوهان ټول ئې ساتنې ته ځان اړ وبولي او متخصصين او اهل خلک ئې په ارت والي باندې د اړينې (احتياج) او د زمان و اقتضا په موجب کوښښ وکړي، زيار وکاږي او پرې نږدي، چې د خپل دود او قواعدو به هينډۍ سره وويله شي او څوک بې ځايه او بې وصوله تصريفات او تصرفات په کښې وکي. دغه لوے ننګ او غيرت دے.» (۱)

د دوي په پورتنۍ وينا کښې «ټول لغات او اصطلاحات ئې قيد» برخه دلته د توجه او پاملرنې وړ ده. د همدې خبرې له مخې مومند بابا دې ټکي ته پوره پاملرنه وکړه او د لسو کلونو په موده کښې ئې د پښتو ژبې سوچه او بومي وييونه (لغات) د پښتو ژبې له ويونکو نه راټول کړل، ښه دقت ئې په کښې وکړ. څو څو ځايه ئې د يو ويي په باب له مختلفو خلکو نه پوښتنه وکړه، چې په پايله کښې ئې د اهميت وړ کتاب د پښتو د لغاتو په برخه کښې د «پښتو سيند» په نامه وليکه. له دې وړاندې هم د پښتو ژبې د لغاتو په باب څه نا څه کار شوے او لغات راجمع شوي دي. خو پښتو سيند هغه افغاني قاموس دے، چې د لومړي ځل له پاره په افغانستان کښې چاپ او شايع شوے لومړنے پښتو قاموس دے. له ده نه وړاندې که پښتو مرکې کوم قاموسونه ليکلي، خو هغه هم لادرکه وو او وزير صاحب سره په لاس کښې نه وو. د «پښتو سيند» په سريزه کښې دې ټکي ته اشاره کوي او وائي چې ما سره د قاموس ليکنې له پاره څه مواد په لاس کښې نه وو. د پښتو قاموس ليکنې د تاريخچې په باب ښاغلے نصر الله ناصر هر اړخيزه ليکنه کړې او « د پښتو قاموس ليکنې تاريخچه» په نوم اثر کښې ئې په دې اړه معلومات راټول کړي دي.

د پښتو مرکې د دوه ټوکيز قاموس (پښتو – دري، دري – پښتو) په باب وائي چې د دغه قاموس مؤلف عبدالرحمن لودين دے، چې په (۱۳۰۲ هـ.ش / ۱۹۳۳ ع) کال کښې د پښتو مرکې دوهم مشر و، خو په تاسف سره وائي چې دغه دواړه ټوکه له چاپېدو د مخه د معارف له کتابخانې څخه کوم خاين غلا کړي دي. ورپسې د پير محمد کاکړ د معرفة الافغاني اثر يادونه کوي. بيا د پښتو مرکې د يوازينۍ پښتو د قاموس يادونه هم کوي. دغه راز په هغه پسې د ارواښاد محمد ګل مومند ((پښتو سيند)) په اړه معلومات وړاندې کوي. د ډاکټر هلالي په حواله د پښتو سيند د قاموس ښې خواوې ئې په لاندې ډول ښودلي دي:

۱ – په دې قاموس کښې زيات کوښښ شوے چې د يوې کلمې اصلي او مجازي معناوې په دري ترجمه شي.

۲ – د قاموس ليکنې د علم له مخې ددې قاموس ښه خوا د لغاتو د تشريح او د ژونديو مثالونو برخه ده.

۳ – پښتو سيند تر ډېره حده په ژوندۍ ژبه متکي دے.

۴ – د ډېرو قاموسونو پر خلاف په پښتو سيند کښې د کلمو د خج ځاے ښودل شوے دے. (۲)

دا چې د پښتو سيند د ليکلو او چاپېدو په وخت کښې د پښتو مرکې قاموسونه ورک شوي او چا غلا کړي دي، نو ځکه وئيلے شو چې ((پښتو سيند)) قاموس په افغانستان کښې لومړنے چاپي قاموس دے، چې د ګټې او استفادې ډګر ته وړاندې شوے دے.

پوهاند صديق الله رښتين ددې قاموس په اړه وائي: ((دغه قاموس دوه ټوکه دے او ټول مخونه ئې (۷۶۵) ته رسېږي. دا قاموس په ډېر زيار په پښتو او فارسي ليکل شوے او په افغانستان کښې لومړے چاپي قاموس ګڼل کېږي.)) (۳)

دا چې پوهاند رښتين صاحب له مومند بابا سره ډېر نږدې پاتې شوے او هم د پښتو ژبې او ادب په باب هم پراخه او هر اړخيزه مطالعه لري نو دده د وينا له مخې چې دا قاموس په افغانستان کښې لومړے چاپي قاموس دے. نو بې له شکه وئيلے شو چې ((پښتو سيند)) لومړنے افغاني قاموس دے، چې د چاپ له ډګره راوتے دے. د پښتنو او چې پښتو زده کوي د استفادې موثر قاموس دے.

سيد صابر شاه صابر ئې په اړه وائي: ((په افغانستان کښې په رومبي ځل په دومره درنه پيمانه په قاموس کار شوے دے...)) (۴)

د صابر شاه صابر د ((رومبي ځل)) له برخې څخه هم ښکاري چې ((پښتو سيند)) په افغانستان کښې لومړنے چاپي پښتو قاموس دے، چې وزير محمد ګل خان مومند ليکلے دے.

((پښتو سيند)) د وزير محمد ګل خان مومند هغه ارزښتمن اثر دے چې د پښتو ژبې او ادب په ګلبڼ کښې لوړ مقام لري. دا د پښتو ژبې د لغاتو لومړنے چاپي قاموس دے، چې په ژبنيو علمي معيارونو برابر په دوو ټوکونو کښې ليکل شوے دے. پښتو سيند په پيل کښې يوه په زړهٔ پورې، پخه سريزه لري چې د ((تمهيد)) تر عنوان لاندې په (۷) مخونو کښې په پښتو ژبه ليکل شوې ده. په سريزه کښې د پښتو ژبې په اهميت، د قاموس ليکنې په اړتيا خبرې شوي او بيا د پښتو سيند په ځانګړنو بحث شوے دے. دغه راز په کښې پښتانه ليکوال د ژبې د خدمت په لاره کښې خپلو مسووليتونو ته متوجه کړے شوي دي.

له تمهيد نه مخکښې ئې په څلورو مخونو کښې د (الضاحات در باب رسم الخط کتاب) د کتاب د ليکدود په اړه بحث شوے او تمهيد وروسته د (اختصارات او اشارات مخصوصه) تر عنوان لاندې، په قاموس کښې د لغاتو د صحيح او درست ويلو په خاطر به درېيو مخونو کښې يوه مهمه او په زړه پورې ليکنه راغلې چې په فارسي ژبه ئې ټول د اړتيا وړ حرکات او ګرامري اصطلاحات په اشاراتو او اختصاراتو ښودل شوي دي. په دغه برخه کښې د (خج) د لغت کارونه د لومړي ځل له پاره د وزير صاحب له خوا شوي چې تر ننه پورې کارول کېږي.

له دې وروسته د پښتو سيند لومړے ټوک پيل کېږي، چې د پښتنې برخه ئې په دې ډول ده:

د مسودې په ډول لمړے پښتو سيند ۱: جلد

يعني اولين قاموس افغاني بطريق مسوده ، جلد: ۱

مؤلف: محمد ګل مهمند

بموجب اجازه نامه و شماره ۴۱/۷۴ تاريخي ۲۳ حمل وزارت جليله معارف در مطبعه عموميه کابل طبع و نشر شد. تعداد طبع (۱) ۱۳۱۶ (۲۰۰۰) جلد.

له پښتنې وروسته د پښتو سيند د لومړي ټوک لومړے مخ په (بسم الله الرحمن الرحيم) پيل کېږي او لومړنے لغت ئې (آبلوځ) = طفليکه نو جوان شده باشد ، آبلوځ هالک = طفل مراهق دے.

دا توک ټول (۳۹۹) مخونه لري، چې وروستے لغات ئې (ږېره ور) = ريش دار دے. د (آ) تر حرف لاندې د لغتونو شمېر (۱۱۶) ته رسېږي، چې وروستے لغت ئې په (۱۲) مخ کښې (آها) دے.

د (ا) تر حرف لاندې لغتونه له (۱۳) مخ نه د (ابا) په ويي پيل او (۴۷) مخ د (اې هې) به لغت پاے ته رسېږي، چې ټول شمېر ئې (۳۷۲) لغتونه کېږي.

د (ب) تر حرف لاندې لغتونه له (۴۸) مخ نه د (بابا) په لغت پيل، په (۸۱) مخ کښې د (بيوه) په ويي پاې ته رسېږي، چې ټول شمېر ئې (۴۲۳) لغتونه کېږي.

د (پ) تر حرف لاندې لغتونه له (۸۳) مخ نه د (پاپکه) په لغت پیل او د (۱۴۶) مخ کښې د (پې ینه) لغت پایې مومي چې مجموعي تعداد ئې (۶۲۲) لغتونه کېږي.
د (ت) تر توري لاندې د لغتونو شمېر (۴۱۴) دے، چې د (۱۴۷) مخ نه د (تا) په ویې پیل او په (۲۰۷) مخ کښې د (تېنګېدل) په لغت پای ته رسېږي.
د (ج) توري لاندې لغتونه له (۲۰۸) مخ نه د (جالی) په لغت پیل او په (۲۲۰) مخ کښې د (جنګېدل) په ویې پای مومي، چې مجموعي تعداد ئې (۱۲۸) وییونه دي.
د (چ) تر توري لاندې د لغتونو شمېر (۲۶۱) دے، چې د (چا) په لغت ۲۲ مخ نه پیل او په (۲۴۳) مخ کښې د (چینه) په لغت پای مومي.
د (څ) تر حرف لاندې لغتونه په (۲۴۴) مخ کښې د (څاپېره) په لغت پیل او په (۲۶۵) مخ کښې د (څینی) په لغت پای ته رسېږي، چې ټول تعداد ئې (۱۹۰) وییونه دي.
د (ځ) تر حرف لاندې لغتونو شمېر (۱۰۳) او له (۲۶۶) مخ نه د (ځاله) لغت په راوړلو پیل او په (۲۷۶) مخ کښې د (ځینې) لغت په لیکلو پای ته رسېږي.
د (خ) تر حرف لاندې لغتونه په (۲۷۷) مخ کښې د (خاپ) په لغت پیل او (۳۱۶) مخ کښې د (خېل) لغت په راوړلو پای ته رسېږي، چې شمېر ئې (۳۷۷) ته رسېږي.
د (د) تر حرف لاندې لغتونه په (۳۱۷) مخ کښې د (دا) په لغت پیل او په (۳۳۹) مخ کښې د (دېوسه) په لغت پای ته رسېږي، چې د لغتونو شمېر ئې (۲۱۶) کېږي.
د (ډ) تر حرف لاندې لغتونه په (۳۴۰) مخ کښې د (ډاډګیرنه) په ویې پیل او په (۳۵۷) مخ کښې د (ډیوه) په لغت پای ته رسېږي، چې ټول شمېر ئې (۱۶۱) ته رسي.
د (ر) تر حرف لاندې لغتونه به (۳۵۸) مخ کښې د (را) په ویې پیل او (۳۷۵) مخ کښې د (ریوندا) په لغت بای ته رسي، چې ټول شمېر ئې (۱۵۳) ته رسېږي.
د (ړ) تر حرف لاندې لغتونه په (۳۷۶) مخ کښې د (ړپ) په ویې پیل او په (۳۷۸) مخ کښې د (ړینګه ې) په لغت پای ته رسېږي، چې ټول شمېر ئې (۱۸) کېږي.
د (ز) تر توري لاندې لغتونه په (۳۷۹) مخ کښې د (زارول) په لغت پیل او په (۳۹۲) مخ کښې د (زېږېدلے) په لغت پای ته رسي، چې شمېر ئې (۱۴۴) کېږي.
د (ژ) تر حرف لاندې لغتونه په (۳۹۳) مخ کښې د (ژاړل) په ویې پیل او په (۳۹۸) مخ کښې د (ژی) په لغت پای ته رسېږي، چې ټول شمېر ئې (۶۶) کېږي.

د (ړ) تر حرف لاندې لغتونه په (۳۹۹) مخ کښې ټول راغلي، چې په (ړدل) پيل او په (ړيره ور) لغت پای ته رسېږي، چې ټول شمېر ئې (۱۲) کېږي.
پورتني لغتونه د ((پښتو سيند)) په قاموس کښې له (۱) مخ نه تر (۳۹۹) مخ پورې راغلي، چې ټول شمېر ئې (۴۰۱۰) لغتونه کېږي. له (۳۹۹) مخ نه وروسته د ((پښتو سيند)) قاموس دوهم ټوک پيل کېږي. چې لومړے ئې پښتی په لاندې ډول ده

| | |
|---|---|
| د مسودې په ډول لمړ ے | پښتو سيند ۲: جلد |
| يعني اولين قاموس افغاني | بطريق مسوده جلد : ۲ |
| مؤلف: محمد ګل مهمند | |

بموجب اجازه نامه شماره ۴۱/۷۴ تاريخي ۲۳ حمل وزارة جليله معارف در مطبعه عموميه کابل طبع و نشر شد. تعداد طبع (۱) ۱۳۱۶ (۲۰۰۰) جلد
له پښتۍ وروسته د پښتو سيند دوهم ټوک لومړے مخ په (بسم الله الرحمن الرحيم) پيل او لومړنے لغت ئې (سابه) دے، چې د (س) تر حرف لاندې راوړل شوے دے او په (۵۲) مخ کښې د (سينګړه ے) لغت سره پای ته رسي، چې شمېر ئې (۴۳۱) کېږي.
د (ش) تر حرف لاندې لغتونه په (۵۳) مخ کښې د (شا) په لغت پيل او په (۷۳) مخ کښې د (شينی) په لغت پای ته رسېږي، چې ټول شمېر ئې (۲۱۶) کېږي.
د (ښ) حرف لاندې لغتونه په (۷۴) مخ کښې د (ښائي) په ويې پيل او په (۸۵) مخ کښې په (ښينه) لغت پای ته رسيدلے، چې ټول شمېر ئې (۸۵) کېږي.
د (غ) تر حرف لاندې لغات په (۸۶) مخ کښې د (غابونړه ے) په لغت پيل او په (۱۱۷) مخ کښې د ( غينړ) په ويې پای ته رسي، چې شمېر ئې (۲۹۰) ته رسېږي.
د (ک) تر توري لاندې لغتونه په (۱۱۸) مخ کښې د (کاپرخولۍ) په لغت پيل او په (۱۷۰) مخ کښې د (کيوؤخل) په ويې پای ته رسي چې شمېر ئې (۵۴۳) دے.
د (ګ) تر حرف لاندې لغتونه په (۱۷۱) مخ کښې د (ګاټ) په ويې پيل او په (۱۹۶) مخ کښې د (لينګړه ی وهل) په ويې پای ته رسي، چې شمېر ئې (۲۴۳) دے.
د (ل) تر حرف لاندې وييونه په (۱۹۷) مخ کښې د (لا) په لغت پيل او په (۲۳۴) مخ کښې د (لېوه) په ويې پای مومي او ټول شمېر ئې (۳۴۳) لغتونو ته رسېږي.
د (م) تر حرف لاندې لغتونه په (۲۳۵) مخ کښې د (ما) په ويې پيل او په (۲۷۳) مخ کښې د (مينېدل) په لغت پای ته رسېږي چې ټول شمېر ئې (۳۶۷) وييونه دے.

د (ن) په حرف پیل شوي لغتونه په (۳۷۴) مخ کښې د (نا) په لغت پیل او په (۲۹۹) مخ کښې د (نیوه ورکول) په لغت پای ته رسي، چې شمېر ئې (۲۱۹) کېږي.
د (و) تر حرف لاندې لغتونه په (۳۰۰) مخ کښې د (واخ) په لغت پیل او په (۳۴۷) مخ کښې د (وېیل کېدل) په لغت پای ته رسي، چې شمېر ئې (۴۴۳) ته رسېږي.
د (ه) تر حرف لاندې ویيونه په (۳۴۸) مخ کښې د (ها) په لغت پیل او په (۳۶۱) مخ کښې د (هینګه) په لغت پای ته رسي او شمېر ئې (۱۳۳) لغتونه کېږي.
د (ے) تر حرف لاندې لغتونه په (۳۶۲) مخ کښې د (یاد کول) په ویې پیل او په (۳۶۶) مخ کښې د (پیوه کول) په لغت پای ته رسېږي، چې شمېر ئې (۳۷) ویيونه کېږي.
د دوهم ټوک د لغتونو شمېر (۳۳۵۰) ته رسېږي، چې په مجموعي ډول د پښتو سیند افغاني قاموس ټول لغتونه (۷۳۶۰) اووه زره درې سوه شپیته کېږي.له تمهید نه د مخه به څلورو مخونو کښې د (الضاحات در باب رسم الخط کتاب) تر سر لیک لاندې بحث راغلے دے.
له تمهید وروسته د (مننه) تر عنوان لاندې لیکنه راوړل شوې ده. د لغتونو درست ویلو په خاطر ئې د (اختصارات و اشارات مخصوصه) تر عنوان لاندې یو ځانګړے بحث کړے دے.
د بېلګې په ډول:
مف = مخفف مفتوح
مک = مخفف مکسور
مض = مخفف مضموم
سا = مخفف ساکن
مع = مخفف معروف
مج = مخفف مجهول
وریسې د (تمهید) ژباړه ئې د (ترجمه تمهید) تر سر لیک لاندې راوړې ده، چې د مومند بابا د فکر او قلم قوت ترې څرګندېږي. له دې وروسته د (تشکر) تر عنوان لاندې یو څو کرښې راوړل شوې دي.

## پایله

په پایله کښې باید وویل شي: ((پښتو سیند)) د پښتو ژبې د ویيونو (لغاتو) یو قاموس دے، چې په دوو جلدونو کښې په لویه قطع ( د یوې تختې د کاغذ به اندازه) وزیر محمد ګل خان مومند د لسو کلونو د زیار به پایله کښې لیکلے او بشپړ کړے دے. دغه قیمتي اثر په (۱۳۱۶ هـ.ش) /

(۱۹۳۷ م) کال د افغانستان د ښوونې او روزنې وزارت له خوا د کابل په عمومي مطبعه کښې چاپ شوے دے. د لومړي ټوک د مخونو شمېر ئې (۳۹۹) مخونو ته رسېږي، چې ټول (۴۰۱۰) څلور زره او لس سوچه پښتو لغتونه په کښې راغلي دي. د دوهم ټوک د مخونو شمېر ئې (۳۶۶) ته رسي چې ټول (۳۳۵۰) درې زره درې سوه پنځوس ویيونه په کښې راوړل شوي دي، چې په دې ډول د پښتو سیند په (۷۶۵) مخونو کښې ټول (۷۳۶۰) اووه زره درې سوه او شپېته ویيونه راغلي دي. نوموړے قاموس د (۲۰۰۰) په تیراژ چاپ شوے دے، دا اثر په افغانستان کښې لومړنے پښتو چاپي قاموس دے، چې په ژبنیو عملي معیارونو برابر لیکل شوے دے.

## ماخذونه


۱ – مومند، محمد گل خان، د پښتو ژبې لیار، بلخ، افغانتسان (۱۳۱۷ هـ) کال، د تمهید برخه، (ت مخ).

۲ – ناصر، نصرالله، د پښتو قاموس لیکنې تاریخچه، میرویس خپرندوے مرکز، پېښور، (۱۳۹۰ هـ) کال، (۳۷) مخ

۳ – رښتین، پوهاند صدیق الله، محمد گل خان مومند، د مومند بابا یاد. پېښور (۱۳۸۳ ش) کال (۸) مخ.

۴ – صابر، صابر شاه، د محمد گل خان مومند بابا ژوند پېژندنه، مومند بابا یاد، ۱۳۸۳ ش کال (۵۴) مخ.

۵ – مومند، محمد گل خان. پښتو سیند (اولین قاموس افغاني) لومړے ټوک، کابل، افغانستان (۱۳۱۶ هـ) کال.

۶ – ((پښتو سیند))، دوهم ټوک، کابل، افغانستان، ۱۳۱۶ هـ / ۱۹۳۷ م کال مطابق.